دویمه کچه

# کونګ ماما

PRATHAM BOOKS storyweaver

التعليم فوق الجميع | education above all




**لیکوال:** بېنوی برمن

**انځورګر:** عارف الاسلام

**ژباړن:** ماګدالینا کوپر


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



یو کلي ته نږدې په یوه ستر میدان کې، کلیوال د یوې جلسې لپاره راټولیږي. ”موږکان د ټول کلي لپاره یو دروند سردردی ګرځېدلي دي،“ یو کلیوال وايي. ”هغوی زمونږ غنم تباه کوي او زمونږ فصلونه غلا کوي.“



یو بل کلیوال زیاتوي، ”دا موږکان زمونږ په کالیو کې سوري کوي او جتلی زمونږ په حوېلیو کې پرېږدي.“

”مونږ څه کولای شو؟ مونږ نو څه کولای شو؟“ ټول بنګېږي.



دوه ځوانان د غونډې منځ ته ځانونه رارسوي. ”مونږ باید له کونګ ماما څخه د هغه مرسته وغواړو. یوازې هغه مونږ ژغورلی شي!“، دوی وایي.

”هغه د سیند پورې غاړې ته لېرې په غرونو کې اوسېږي، خو که ستاسو اجازه وي، مونږ هغه پیدا کولای شو.“



کلیوال په چټکۍ سره خپلو کې بحث کوي. ”تاسو باید ولاړ شئ او فوراً کونګ ماما زمونږ کلي ته راورسوئ!“

ځوانان له ستر سیند څخه پورې اوړي، د ډېرو غرونو په لوړو ژورو کې پورته خېژي.
بالاخره، هغوی یو کلیوال سره مخامخ کېږي.
”آیا تا ته معلومه ده چې کونګ ماما چېرته اوسېږي؟“ دوی پوښتنه کوي.

کلیوال دوی ته وايي چې دوی باید د انځر ستره ونه، چې د کونګانو انځر نومېږي، ولټوي. هملته به دوی کونګ ماما پیدا کړي.





ځو ساعته وروسته، دواړه یو
سپین ږیری سړی مومي چې د
انځر د یوې ستړې ونې لاندې
ناست دی. د هغه ګېر چاپېره
ځانګو کې کونګان ناست دي.

"دا به ارومرو کونګ ماما
وي،"سړي غلی وایي.



سړي کونګ ماما ته کیسه کوي چې
ښځنګه د هغوی کلی د موږکانو له خوا
محاصره شوی دی.

کونګ ماما په توجو سره د دوی
خبرې اوري. کله چې هغوی خبره
خلاصوي، هغه ترې پوښتنه کوي.

“”آیا ستاسې په کلي کې د انځر ونه
شته دی؟

”هو!“ سړو په لوړ غږ وایي. ”مونږ یوه
داسې ونه لرو چې بیخي زمونږ د کلي په
منځ کې ده.“

کونګ ماما ژمنه کوي چې هغه به ډېر
ژر د دوی کلي ته ورځي.

دا چې اوړې یې سپکې شوې، دواړه د
بېرته ستنېدو سفر پیلوي.



**هووووو هووووو هوووووووو!**

دا شور د څه شي دی؟

بله ورځ، د کلي د منځ د انځر ونه له کونګانو
ډکه ده.



**خلک ګوري چې يو بوډا سړی چې ژېړ پټو يې اغوستی، د ونې لاندې ولاړ دی. کليوال د هغه شا و خوا راټولېږي، په داسې حال چې کونګان له ځانګو څخه چغهار کوي.**

**"دا به ارومرو کونګ ماما وي. کونګ ماما کله کلي ته راغلی؟ چا هم هغه د کلي پر سړک د راتګ پر مهال نه و ليدلی" دوی غلی وبنګېدل.**

**کونګ ماما خپل سر پورته کوي. کونګان او خلک غلي کېږي.**



کونګ ماما د خلکو ګڼه ګوڼې ته وینا کوي. ”نن شپه به ټول موږکان له دې کلي څخه ورک شي. خو په یاد ولرئ، هر یو کس باید په خپلو کورونو کې دننه پاتې شي. که څوک بهرون راوځي،“ هغه کلیوالو ته اخطار ورکوي، ” هغه به په غټ خطر کې وي.“

کله چې شپه په اسمان کې خپل سیوري خپروي، دوه ځوانان د کنجکاوۍ له امله په کور کې نه شي پاتې کېدای. هغوی د آم ونې څانګو ته خېژي او د تیارې د خپرېدو په تمه کښېني.





په تکه توره شپه کې، کونګ ماما په لوړ غږ چيغه وهي. سلګونه کونګان د انځر ونې څخه الوځي چې د تياره اسمان فضا د خپلو وزرونو ګڼه ګوڼې سره ډکوي.

د شپې په پای کې، کونګان د انځر ونې ته ستنېږي په داسې حال کې چې هر یو یې په خپلو پنجو کې یو موږک نیولی و.

د کونګ ماما نارنجي پټو په ځمکه لوېدلی دی او کونګ ماما د ونې لاندې ولاړ دی. د هغه بدن په بڼکو پټ دی. د هغه پښې د مرغۍ د پښو په څېر ښکاري، او سر یې د کونګ د سر په څېر. هغه د لاسونو په ځای دوه ستر وزرونه لري.

**’هووو هووو هوووو‘**، هغه کونګانو ته غږ کوي.





کونګان خپل موږکان په نارنجي پټو کې غورځوي. سم لکه جادو چې وي، دا پټو قات کېږي او موږکان په ځمکه کې ورکېږي.

کونګ ماما خپل وزرونه غځوي او په خاموشۍ سره فضا ته پورته کېږي.



ناڅاپه، هغه د آم ونې باندې غوټه وهي چېرته چې دوه ځوانان په پټه د ده په ننداره دي.



بله ورځ، کليوال ډېر خوشحاله دي چې وېې
کتل چې په کلي کې يو موږک هم نشته دی!

خو هغه دوه ځوانان څه شول؟ کليوال ښکته
او پورته ګرځي، خو دواړه ځوانان بيا هيڅ پيدا
نه شول. ځينې وايي چې کونګ ماما هغوی په
کونګانو بدل کړي او له ځان سره يې بېولي دي.

تاسې څه فکر کوئ؟

## لارښودونکې پوښتنې

1. کلی له کومې ستونزې سره مخ دی؟ څوک کلیوالو سره مرسته کوي؟
2. ستاسې په اند ولې کونګ له کلیوالو څخه غوښتنه وکړه چې په خپلو کورونو کې دننه پاتې شي؟ ستاسې په اند په پای کې هغه دوه سړو سره څه وشول؟
3. آیا ته یو کنجکاو شخص یې؟ تاسې د څه شي په اړه کنجکاوه یاست؟
4. آیا کنجکاوي یو ښه کار دی؟ څنګه دا یو ناوړه کار کېدای شي؟
5. ستاسې کلی/ښار د کومو مسئلو/ستونزو نه کړېږي؟ تاسې د مرستې لپاره څه کولای شئ؟